# The health and safety people visit my business – Why?

# د "روغتيا او سلامتۍ" کارکونکي زما د کاروبار ليدلو ته راځي – ولې؟

ايچ. ايس. سي او محلي ادارې د روغتيا، سلامتۍ او رفاه ( د هغه چا لپاره چې په کار کې وي او يا د کار په جريان کې اغيزمن شوي وي، د عامه خلکو په ګډون ) د تنظيمولو مسؤليت په غاړه لري. مونږ غواړو چې روغتيا او سلامتي د متمدنې ټولنې د بنسټيزې ډبرې په توګه وګڼل شي. چې د کار به وخت کې روغتيا او سلامتي د نړۍ تر ټولو اوچت ريکارډ ته ورسيږي (مونږ مخکې له مخکې د نړۍ تر ټولو غوره د سلامتۍ ريکارډونه لرو). چې مونږ ددې لپاره د کاروبارونو، کارکونو او د هغوی د تجارتي اتحاديو سره په ګډه توګه کار کؤو. مونږ مشورې، لارښوونې او معلومات په ملي او محلي سطحه برابروو.

مونږ همدارنګه خپلو هدفونو د لاس ته راوړلو لپاره شخصي ملکيتونو ته ورځو. ايچ. ايس. سي. او محلي ادارې څنګه پريکړه کوي چې کوم ځايونو ته بايد ولاړ شي؟ دا پريکړه د خطر په بنياد نيول کيږي. مونږ خپل کار په هغه ځايونو کې متمرکز کؤو چې د خطر امکانات پکې زيات وي او زياته اغيزه ولري، په ځانګړې توګه هغه ځايونه چې:

- مونږ شواهد ولرو چې د روغتيا او سلامتۍ اجراء کول ضعيف وي – ستاسو په خپل کار يا ځانګه کې او يا کوم ډول کار چې تاسو کوئ د ناڅاپي پيښو او ناروغتيا شمير پکې زيات وي. ستاسو د کار د ځای د ليدلو په لړ کې زمونږ کارکونکي به هغو خطرونو ته پاملرنه کوي چې د ملي روغتيا او سلامتۍ لپاره د لومړيتوب په توګه ګڼل شوي وي ( د مثال به ډول د لوړ ځای څخه راپريوتل او يا په هواره سطحه پريوتل) ځکه چه دوی د ملي روغتيا او سلامتۍ د پرمختګ لپاره د ستر استعداد لرونکي دي.
- تاسو په يو له خطرناکو صنعتونو کې کار کوئ ( د مثال په ډول د ساحل څخه ليرې، هستوي، وسپنيزه لار ، بعضې کيمياوی توکي، انفجار کونکي توکې ). زيات له دغو صنعتونو څخه د سلامتۍ تر قضيي لاندې او يا د لايسنس تر رژيم لاندې کار کوي. دا دې ته اړتيا لري چې زمونږ د سلامتۍ د هغې قضيي په اړه څيړنه وکړو چې تاسو تياره کړې وي ، چې د خپل د کار په ځاې کې هغه خطرونه چې ستاسو کارکونکي او يا د ټولنې عامه وګړي ورسره مخامخ دي، څرنګه مو تشخيص او کنټرول کړي دي. کله چې مونږ ستاسو د

کار ځای ته راشو مونږ به پدې لټه کې یو چې د ټولو چارو کنټرول (انجنیري او تشکیلاتي) په مناسب ځای کې په اغیزمنه توګه د روغتیا او سلامتۍ د متناسب او مثبت کلتور سره عملي کیږي.

- مونږ غواړو چې د ډول ځانګړي پیښې (د ناڅاپي پیښې او یا کار پوري اړونده ناروغۍ) او یا شکایت په باره کې تفتیش وکړو. مونږ خپل زیار ډیرو زیاتو جدي پیښو باندې متمرکز کړو – د کومو په نتیجه کې چې مرګ یا سخت ټپي توب واقع کیږي – او یا هغه چې زمونږ د ملی روغتیا او سلامتۍ د پرمختګ په لومړیتوب کې قرار لري. زمونږ د مفتشینو تفتیش به د دې لټه وکړي چې څه غلط ؤ او چې لدې څخه ستاسو کارکونکي او نور چې ستاسو په شان مشابه کار کوي، زده کړه وکړي.

ایچ. ایس. سي. او د محلي ادارو کارکونکي همدارنګه څو محدود ملاقاتونه کوي:

- د نوو کاروبارونو او د کار ځایونو د خطرونو څیړنه کول
- د مختلفو جغرافیاوي ساحې او یا برخې د ځانګړو لومړیتوبونو باندې د تمرکز لپاره په نښه کړي لکه ( خرابه پشتوانه یا د کار د ساحو ټرانسپورټ)
- د موافقې په توګه تخمیني نمونه یي څیړنه
- د عملي زده کړو د اهدافو لپاره د نوو پرمختګونو او پروسو یادداشت نیول

د تولیداتي مختلطو ساحو لپاره زمونږ هدف ټول کاروبار ته پاملرنه کول دي نه دا چې شخصي بنیادونو ته،او دا چې څرنګه تاسو کولای شۍ ثابتو سټانډارډونو ته ورسیږۍ، د دې لپاره چې د مماثلت او تکرار څخه مو ژغورنه کړی وي.

پدې جریان کې چې محلي اداري خپل کوښښونه په ملي توګه د منل شوو لومړیتوبونو او د پیښو او شکایتونو په مقابل کې د ځواب به توګه، متمرکز کړي، هغوی شای‌د همدارنګه د محلي ټولنو لپاره د هغو په ځانګړو لومړیتوبنو لرونکو مسائلو باندې هم توجه وکړي.

زمونږ د کتنو علت چې هر څه وي مونږ به ستاسو په کاروبار کې د روغتیا، سلامتۍ او رفاه د سټانډارډونو څیړنه وکړو او تاسو ته به مشورې درکړو چې څرنګه خلک د کار په وخت کې له ټپي توب یا ناروغۍ څخه وژغورۍ.

مونږ په دې باور نه لرو چې د کار په وخت کې ټول خطرونه له منځه تلای شي. د دې پر ځای مونږ به وغواړو چې وګورو چې تاسو د روغتیا او سلامتۍ د خطرونو د کمولو لپاره که چیرته چې ضرورت وي

معقول فعالیت کوي. د مثال په توګه کوم ځای کې چې وضیعت ډیر ضعیف دې او یا د قانون څخه ښکاره سرغړونه کیږي، زمونږ کارکونکي به خپل صلاحیتونه د لازمو پرمختګونو لپاره استعمال کړي، ان تر دې چې که ضرورت وي تعقیب هم پکې شامل دې.

مونږ امید لرو چې تاسو ته دغه تشریحات مفید وي چې ولې مونږ ستاسو له کاروبار څخه لیدنه کؤو، څنګه مونږ لومړیتوبونه ورکؤو، او کله چې مونږ ستاسو د کاروبار په ساحه کې یو نو څه کؤو. که چیرې تاسو غواړۍ پدې باره کې چې آیا تاسو ته دا تشریحات مفید او واضح دي، خپل نظریات مونږ ته په دې بریښنایي پته ولیکۍ business.involvement.team@hse.gsi.gov.uk .